دخلکوپرناموس تيري کيږي. دخدای(ج) لپاره تاسوماته ووايي چي کارته نوکي دغه دکمونيزم بقاياوکورته ننوځي پوښتنه له لاس نه نیسي غواړي چي خپلي پوستني ته بي بوزي خاوندبي راځي اودفاع کوي هغه ضربه کوي اوبه قتل بي رسوي سباله دکلي خلك مړي په جنازه کي اخلي اود ارګ مخي ته بي وړي. دجنازی په سرهم دښځی شکيدلي کوڅې پرتي دي اوورته وايي چي داستاسواسلامي دولت دي اوله مونږ سره دامعامله کيږي دا چاوړلي په څه جرم دخپل ناموس ته ددفاع په حالت کي وژل شوي چاغږهم ونکړ دچاتندي هم تريونشو يوه خبره بي هم ونکړ؟ زه نه پوهيږم چي داستاغيرت چيرته دي داستاايمان چيرته دي. پيغمبر(ع) خوديوي ښځې دناموس نه ددفاع په خاطر يومکمل قوم دمديني نه اخراج کړ.

خلع سلاح بي کړه اوټولي شتمني بي ضبط کړه ديوي ښځي دناموس ددفاع په خاطر! زه نه پوهيږم چي ددي خلکو غيرت څه شو .

ماته خوښه په جرئت اوبي باکي سره له کابل ته خوپرېږده حتي له جاګارتانه ښکنځلی کيږي زما محاکمه غواړی خود ببرك محاکمه هم وغواړه . چي روسي قوځونه بي راوستل افغانستان ته،ټول ملك بي وران کړ. يونيم مليون افغانان ددوي په لاس په قتل ورسيدل دڅومره مسلمانانوپه ناموس به تيري شوي وي،دببرك دمحاکمي خبره هم څوك نکوي.

دغه چي خوارلس کاله دملت په خلاف جنګيدلي دي، ددوی دمحاکمی خبره خوپرېږده کم له کم خودومره ووايه چي دادي منحل شي اووسله دي پرځمکه کيږدي له کابل نه دي ووځي داهم نشي کولي! سره لدي چي مونږ ته دومره خبري کيږي مونږ وايوچي استادرباني زماورورددي

تياريو دمسلمانانوسره ورورولي اوسوله غواړو جنګ مودکمونستانواو دښمنانوسره دي دخپل ايمان اوعقيدي په حکم داکارکوو. ورونو! مونږ داجهاد داسي کوولکه لمونځ ددي پروانلروچي زمونږ په جهاد به څه نتيجه مرتبه وي والله که قطعاً پرواولرو، مرم که ژوندي پاتی کيږم. څوارلس کاله نورهم په غرونوکي پاتي کيږم دملك نه تبعيدکيږم خوچي ترڅوژوندي يم جهادته به ادامه ورکوم ، جهاد به دغسي کوم لکه لمونځ.ددي نه نه ستړي کيږم نه ستومانه کيږم (ناره تکبير) که له تاسونه څوك ووايي چي داڅوکاله مسلسل لمونځ بي وکړ اونور بس دي لکه چي داخبره نشي کولي نوهمداسي داهم نشي کولي چي څوارلس کاله جهاد مي وکړ اونوربس دي.

جهاد يوه الهي فريضه ده. دجهاد نه چي څه نتيجه مرتب کيږي دادالله کاردي عاقبت داموروهغه په اختيارکي دي.

دعملونو پاداش هغه ورکوي ، پدي موباوردي دخدای(ج) په نزدکي دچاداعمالو پاداش نه ضايع کيږي. ان الله لايضيع اجرالمحسنين،ان الله لايضيع اجرالمؤمنين . الله دمومنانو اونيکوکارانو اجرنه ضايع کوي.دهرعمل دنيوی اواخروی بدله اوپاداش خدای (ج) ورکوي اجربي دالله په نزد خوندي دي نه بي ضايع کوي. که ددنيا داټول څواکونه هم يوبل ته لاس ورکړي زما دجهاد نتايج نشي ضايع کولي زه په خداي(ج) باورلرم . دامي شعاردي چي الله دهرڅه نه قوي دي الله ترهرستړنه ستردي.

زه په هره ورځ په سل هاووځله وايم چي الله اکبر.

والله علي کل شي قدير دامي ايمان دي زه خدای(ج) ځانته کافي ګڼم پدي مي باوردي چي ددنيا داټول څواکونه هم يوبل ته لاس ورکړی اوغواړي چي زما دجهاد نتايج دي ضايع کړي،نشي تواتيدلي .

دخدای(ج) وعدي حق دي دخداي(ج) وعدي به خامخاتحقق مومي پدي خاطر مونږ دجهاد نتايجوته مطمئن اوتشويش نلرو.

دټولودي لاس خلاص وي، که مودابباورنه وای امريكا سره به موسازش کړي وای ، که موداعقيده نه وای دروس سره به موسازش کړي وای . که موداعقيده اوايمان نوای دکمونستانو سره به موائتلاف کړي وه . اوس به موچاته سرټيټ کړي

نه چاته په سلو کي دپنځوسو غړو دټاکلو امتياز او نه دکومي ولسوالي نه پخپل فرمان دانتخاب حق ورکوو، ځکه اختلافات په هره ولسوالي کي شته او داد اقتدار لپاره يوه بهانه ده.

جمعيتان زمونږ وروڼه دي. دجمعيتيانو سره جنګ نلرو او دواړه باید يوبل ته لاس ورکړو دکمونستانوپه خلاف په ګډه وجنګيږو مونږ استادرباني ته احترام لرو مونږرئيس دولت کړي تعاون ته بي هم تياريو راشه ! په خدای(ج) بروسه وکړه ملت ته رجوع وکړه دملت دخدمت اراده وکړه مونږدي تر څنګ ولاړيو دمجاهدينو دمټ په زورڼن په ارګ کي ناست بي. خداي (ج) کافي دي راځي دمجاهدينو په څنګ کي ودريږي.کيداى شي دامجاهدين تاته دامقام بيا درکړي مونږ ته ښکنځلي کوي زمونږ دمحاکمي خبري کوي ولي مونږ هغوی خپل وروڼه ګڼو. مونږ داسلامي حکومت دجوړولو پرلاره کي له هرچاسره صادق تعاون ته

اودچالمن به مونيولي وه . زمونږ خدای (ج) ته مخه ده اوالله (ج) ځانته کافی ګڼو جهاد به ترهغه وخته پوری جاري ساتوچي په افغانستان کي دمجاهدينوپه لاس واقعي اسلامي حکومت راشي والله چي ددنياپه هرګوټ کي مسلمان مظلوم وي اوزماله وسع څه پوره وي هغه به ونه سپموم.

زه دتاجکستان په جهاد کي ځان شريك ګنم زه د کشميرجهاد خپل جهاد ګنم ، زه دبرما دمسلمانانو جهاد دافغانستان دمسلمانانو جهاد ګنم، زه چي څوك په فلسطين کي جنګيږي دغسي ګنم له دروسانو مقابل کي چي څوك په افغانستان کي جنګيږي. که په الجزایرکي څوك مظلوم دي دهغه په درد کي ځان شريك ګنم.

توريبا

ملغلري

دجهاد فضيلت

حسن جان "حيران"

له ابي هريره (رض) نه روايت دي ، دي وائي چي فرمايلي رسول الله صلي الله عليه وسلم:بيشکه په جنت کي سل درجي دي چي خداي (ج) تياري کړي دمجاهدينو لپاره (چي جهاد کوي) په لاره دالله کي دهري درجي ترمنځ دومره فاصله ده لکه دځمکي اواسمان ترمنځ چي ده .

(رواه البخاري)

له ابي هريره (رض) نه روايت دي چي وايي فرمايلي رسول الله (ص) مثال دمجاهد په لاره دالله کي په شان دروژه نيوونکي ، لمونځ کوونکي او لوستونکي دآياتونو دخداي (ج) دي چي هيڅ نه کميږي له روژي نه بي اوله لمانځه بي ترڅوپوري چي بيرته راوګرځي مجاهد په لاره دخداي کي .

(متفق عليه)

له سهل بن سعد نه رايت دي وايي چي رسول الله (ص) فرمايلي ، ځان آماده ساتل (تيارسي) کول يوه ورځ دالله (ج) په لاره کي غوره اوښه دي له دنياته اوهغه څه چي په هغي کي دي .

(متفق عليه)

له سلمان فارسي (رض) نه روايت دي ، ماله رسول الله (ص) نه اوريدلي چي ويل بي : ځان مجهز ساتل (تيارسي کيدل) يوه ورځ يابوه شپه دالله (ج) په لاره کي غوره دي له يوي مياشتي روژي اولمانځه څخه اوکه چيري مرشي تل به رسيږي ده ته ثواب دهغه عمل چي کړي بي دي اورسيږي به ده ته روزي دده ، له جنت نه اوحتي په امن به شي له فتنو (دعذاب دقبر) څخه .

رواه مسلم

څوك چي مجهز کړي (تياراوسمبال کړي د جنګ په وسله اوسامان) يوغازي دالله (ج) په لاره کي نويه رښتيا چي غزائي وکړه ، اوڅوك چي سرپرستي (پالنه وکړي دغازي دکورني) نو په رښتيا غزابي وکړه .

(متفق عليه)

ترټولو لوي

په دنياکي ترټولو لوي اوغوره نوم دالله (ج) دي.

په دنياکي ترټولو عظيم شخصيت حضرت محمد(ص) دي .

په دنياکي ترټولو لوي کتاب قرآن مجيد دي .

په دنياکي ترټولو سترقوم دمسلمانانو دي .

په دنياکي ترټولو غوره دعوت آذان دي

په دنياکي ترټولو غوره ژبه عربي ده

په دنياکي ترټولو غوره ځمکه مکه مکرمه ده .

بي فايدي دي

بي فايدي ده هغه پيشه چي عبادت پکي نه وي .

بي فايدي دي هغه زړه چي دردمن نه وي .

بي فايدي دي هغه دوست چي وفاداره نه وي .

بي فايدي دي هغه سترګي چي نمجني نه وي .

بي فايدي دي هغه اولاد چي فرمان بردار نه وي .

بي فايدي دي هغه انسان چي بي هنره وي .

بي فايدي دي هغه قوم چي په په هغوي کي يووالي نه وي .

بي فايدي ده هغه محکمه چي پکي انصاف نه وي.

بي فايدي دي هغه حجاب چي پکي حيا نه وي.

بي فايدي دي هغه مال چي پکي صدقه نه وي.

غوره پند :

دلقمان حکيم زوي خپل پلارته وويل :

زماپلاره دانسان لپاره کوم خويونه ښه دي ؟

پلار: دين .

زوي : که هغه دوه وي.

پلار: دين اومال .

زوي : که هغه دري وي .

پلار: دين ،مال اوحيا ، .

زوي : که هغه څلوروي .

پلار: دين ، مال ، حيا اوښه خوي.

زوي : که هغه پنځه وي :

پلار: دين ،مال، حيا ، ښه خوي اوسخاوت .

زوي : که هغه شپږوي :

پلار: زويه ! چي په چاکي داپنځه شيان راغونډشي نوهغه متقي اوپرهيزګاره او دخداي جل جلاله له دوستانو اودشيطان څخه بيزاره اونجات موندونکي شي .

(احيا، العلوم -ج - ۳- ص ۵۲)

جنيد (رح) ويلي دي :

څلورشيان دي چي بنده لوړودرجوته رسوي که څه هم کړه وړه اوپوهه بي کمه وي.

هغه : نرمي بردباري ، تواضع ،سخاوت اوښه خوي دي اوهم داايمان کمال دي.

حسن (رح) ويلي دي : څوك چي دبدوخويونو ښتن شونوخپل نفس بي په عذاب ګرفتار کړ.

يحيي بن معان ويلي دي :

دښو خويونو په زياتوالي کي دروزي خزاني دي .

حضرت علي (رض) فرمايلي دي :

ښه خويونه په درېوشيانو کي راټول شوي دي .

دحرامو څخه ځان ساتل ، دحلالو غوښتنه اوپرخپل عيال باندي دقدرت په اندازه پراخوالي.

دابي مسعود بدري (رض) څخه روايت دي : چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به تل پخپله دعاکي ويل : خدايه ! زما بنه دي ښکلي پيداکړي ده ، نوزماخو يونه هم ښه کړه .

حزب اسلامي په جهادي سنګرونو او دروانو حالاتو په سمون کي تر ټولو مهم او لوي تنظیم دي.

پیښور دلیندي (۱۰) مه

دران کال دلیندي د میاشتي په (۱۰) مه نیټه دسه شنبي په ورځ د سهار په (۱۰) بجو او (۳۰) دقیقو دحزب اسلامي افغانستان د سیاسي چارو ددفتر په انګر کي دقاضي صاحب محمد امین « وقاد » په ګډون یوه درنده غونډه جوړه شوه دغه غونډه دقاضي صاحب وقاد له حزب اسلامي سره د بیا پیوستون لومړني غونډه وه د حزب اسلامي ګڼ شمیر مخکښانو ، سپین ږیرو میلمنو او دحزب اسلامي داجرائیي شوري غړو جهادي قوماندانانو ، برخه درلوده په روانو حالاتو مفصل بحثونه وشول.

دغونډي په پیل کي دحزب اسلامي د ارشاد او فرهنګ رئیس دلجو حسیني مقدماتي ارزښتناکه وینا وکړه او دقاضي صاحب وقاد راتلو ته یي ښه راغلاست ووېل.

ورور دلجو حسیني د خپلو خبرو په ترځ کي ووېل : زموږ مبارزه تر اوسه نده خلاصه شوي بلکي دوام لري زه د ټولو او هغو رښتینو بچیانو څخه چي د ۱٤ کلن انقلاب په اوږدو کي یي قرباني ور کړي دا هیله کوم چي خپل صفونه نور هم پراخه کړي او یوبل ته دوروري لاسونه ور کړي او ددښمنانو دتوطیو مخه ونیسي.

ورور دلجو حسیني ووېل: زموږ انقلاب اوس بریالیتوب ته رسیدلي خو باید پدي مرحله کي زیات متوجه و اوسو ترڅو پدي آخر کي ددښمنانو دتوطیو ښکار نشو.

له هغي وروسته مجاهد ورور قاضي محمد امین « وقاد » ارزښتناکه او عالمانه وینا وکړه او وي ویل:

زما ورونو! زه په خپله پدي خوښ او راضي یم چي په دا اوس فرصت کي یو ځاي یو له بل سره ناست یو او ګورو دنن نه پوره (٤۰) ورځي وړاندي چي همدا نن ورځ یي (٤۰ معاور ځ پوره کیږي زه جلال آباد ته ولاړم او حکمتیار صاحب له مانه وړاندي دوي ورځي دمخه هلته راغلي وو موږ هلته دننګرهار ولایت د جهادي شورا په دفتر کي یو له بل سره ولیدل او اتفاق پدي وشو چي له هماغي ورځي چي دچهار شنبي ورځ وه مازدیګر به په ټول اردو کي سره و ګورو او په قول اردو کي مو هم ولیدل بیا خبري وشوي او بیا اتفاق پدي وشو چي سبا دپنجشنبي په ورځ باید سره وګورو او همدا ډول مو بیا یو دبله سره ولیدل.

زه او انجنیر صاحب دوه په دوه سره کیناستو ،هر دوه انسانان چي کیني دادقرآن تعلیمات دي چي دریم یي الله وي او چي دري کیني نو څلورم یي الله دي.

۲- ماحکمتیار صاحب ته ووېل: چي خبره وکړه هغه ووېل چي تاسو یي وکړي ما بیا ووېل چي زه به یي وکړم د(۸) کلونو راهیسي چي جداوو دانن باید دپیوستون فیصله وکړو او ددي فیصلي ډیرو تعبیراتو او توجیهاتو ته به ضرورت نه وي خو دا فیصله به ددیانت صداقت او مسؤلیت په بنابه وي، دا به دیوه او بل د خوشحاله کولو لپاره نه وي دا به طبیعي راځي او دبل چا د تهدید لپاره ، به هم نه وي هلته داسي خبري هم وشوي.

چي څوك به څه کار کوي د څه شي په توګه به یي کوي په کوم ځاي که به یي کوي، ما ووېل: زه چي دا فیصله کوم او دتاترڅنګ کینم چي څوك څه کار وکړي په کومه توګه بې وکړي په کوم ځاي کي بې وکړي دا په تاسو پوري اړه لري په ماپوري یې نلري.

حکمتیار صاحب وغوښتل چي پدي مجلس کي څو ورونه هم شریك کړو هغه وو چي څو نور ورونه هم راغلل ، ډاکتر فضل محمد او ځني نور لکه سعید صاحب، منصف صاحب تشریف راوړ خو دوي هم و نشواي کولاي چه څه نتیجه لاس ته راوړي.

ما ورونو ته ووېل چي موږ کومي خبري په سیاسي اصطلاحاتو ، اساسنامو ، مرام نامو سره و کړو نو دابه کومه نتیجه ور نکړي او که موږ و غواړو چي زموږ خبره نتیجه ور کړي نو لازمه ده چي داخبره موږ د خپل سیاسي لیك او لوست نه وباسو.

موږ سره ورونه یو او انشاء الله چي ورونه به وو زموږ همکاري او همدردي د ملت دسالمیت په خاطر ده باید په ګډه داخپل کور جوړ کړو ، تیر شو یوواقعاتو ته دعاووایو او په راتلونکي کي باید دهوښیاري او ځیرکتیا څخه کار واخستل شي او د مجاهدینو د لا یووالي په باره کي په یو صف کي باید کار وکړو او ټولي سیاسي او اجتماعي مسئلي باید شاته و غور ځوو او که کومه اشتباه یاکومه غلط فهمي کیږي باید یو دبل سره مشوره پکي وکړو په افغانستان کي دزیاتو ستونزو سره مخامخ یو او موږ غواړو چي داستونزي د تفاهم له لاري حل و فصل شي.

ورور قاضي محمد امین وقاد زیاته کړه حزب اسلامي د رباني سره داقتدار دشریکیدو فیصله وکړه تر څو چي په ملك کي امن او قراري راشي او نور د وینو توئیدل بند شي او رباني ته مو ووېل چي که په افغانستان کي آرامي غواړي نو حزب اسلامي هر ډول مرستي ته تیار دي او که جنګ غواړي نو د راتلو نکو پیښو مسئولیت به په خپله دستا په غاړه وي .

همداراز ورور وقاد زیاته کړه چي حزب اسلامي دا اوس هم ددي کوښښ کوي چي په افغانستان کي جنګونه ختم کړي خو دانور دي چي دجنګ اور ته لمن وهي حزب اسلامي دټولو جهادي تنظیمونو څخه په بار بار ددي غوښتنه کړي چي راځي له تیرو غلط فهمیو ځیني تیر شو او په ګډه یو مستحکم اسلامي حکومت جوړ کړو همدا اوس هم حزب اسلامي دجهادي رهبرانو سره په خبرو لګیا دي تر څو د روانو ستونزو لپاره یوه د حل لاره و لټوي او د افغانستان ستونزه په سوله ایز ډول حل کړي.

ورور قاضي وقاد زیاته کړه ! حزب اسلامي د جنګ په محاذونو او د افغانستان دروانو حالاتو په سمون کي ترټولو مهم او لوي تنظیم دي او هم د افغانستان په روانه کشاله کي مهم رول لري او دحزب اسلامي له موافقي پرته زه ګومان نه کوم چي څوك حکومت جوړ کړي.

قاضي صاحب « وقاد » دمهاجرینو دبیر ته ستنیدو په هکله ووېل : په اوسنیو حالاتو کي دمهاجرینو ستنیدل هیڅ امکان نلري ځکه چي د افغانستان په سلو کي (۸۰) فیصده آبادي خرابه شوي او هم یي ملي اقتصاد ته زیات نقصان رسیدلي دي په افغانستان کي خوراکي مواد کم دي د سون مواد ختم شوي، امن او سلامتیا ته تاوان رسیدلي او هري خواته دمرګ ویره او خطر متوجه دي، هیڅوك پدي باور نلري چي سبا به څه کیږي .

په همدي ډول ورور وقاد دپاکستان له خلکو څخه خوښي څرګنده کړه او ددوي د همکاریو په باب یي ووېل: د افغانستان مجاهد ملت د پاکستان امدادونه او نیکي نشي هیرولاي موږ له دوي څخه ډیره مننه کوو او حزب اسلامي دځان لپاره پاکستان دامن او سلامتیا کوربو لي او هر ډول ګټي او تاوانونه یي سره شریك دي.

په آخر کي ورور « وقاد » له ټولو اسلامي ملکونو څخه د افغانستان دبیا جوړوني په باب مرسته وغوښتنه او غونډه د ماسپښین د یوي بجي په شاو خوا کي پاي ته ورسیده.

دکابل واکمن غواړي چي د...

اول دا کار نه کیږي او بیا هم که دا کار وشي نو پدي کار سره به په افغانستان کي استقرار را نشي مایه پخوا هم ویلي دي او اوس هم په تکرار سره وایم چي اصلاً داشورا دجوړیدو نه ده او ددي شورا په جوړیدو باید وخت ضایع نشي اوس باید د ملت واقعي نمایندګان ، قوماندانان او علما را و غوښتل شي تر څو چي هغوي یو داسي رهبري مینځ ته راوړي چي په اسلامي ډول سره په هغي باندي مشران او کشران قانع وي.

نوموړي ددي پوښتني په ځواب کي چي آیا تاسو ته منظور ده چي ددي شورا پنځه فیصده غړي رباني او پنځلس فیصده نور قیادي شورا وټاکي ووېل څرنګه چي موږ د قیادي شورا په رأس کي داخل یو خو باید دنوموړي شورا په هکله سړي خوش بینه و اوسیږي خو زما په فکر سره به داکار په ملت کي یوه بله ستونزه را پیدا کړي چي بیا به ملت د همدي شورا په هکله خپل اعتماد له لاسه ور کړي همدا راز دولت هڅه کوي چي د اهل حل او عقد د شورا تر مخه د اولس په مینځ کي پیسي وویشي او په ځینو ځایونو باندي حملي و کړي او نورو حزبونو ته دا ور وښیي چي دوي زور لري.

دقیادي شورا او جمهور رئیس لخوا شل(۲۰) فیصده غړي دیو، آزاد فکر کار ندي او دا کار به کومه مثبته نتیجه ورنکړي.

همداراز ده دحکومت لخوا دپیسو دویشلو په باب ووېل موږ چي خبریږو ددولت لخوا مختلفو ځایونو ته قوماندانان لیږل کیږي چي هغوي په پیسو سره د خلکو رایي تر لاسه کوي که دا خبره رښتیا وي نو داخو یو غلط کار دي خو دوي هره ورځ وایي چي د اهل حل او عقد شورا نن جوړیږي او یا سبا جوړیږي ددي څخه خلکو ته دامعلومیږي چي دوي لګیا دي په پیسو سره خلك دوکه کړي.

که د رباني په ځاي یو ...

(۵) په سلو کي دشورا غړي به رباني تعینوي پدي اکثره جهادي تنظیمونه په قیادي شورا کي توافق نلري او له دي سره مخالفت کوي او دوهم دا چي دولت ویلي دي چي په کومه ولسوالي کي اختلاف پیدا شي نو هغه به ددولت له لاري حل کیږي.

خوددولت دا طرح هم د کمیسیون لخوا رد شوي ده اګر چي پدي باره کي تر اوسه کوم بحث ندي شوي خو دکمیسیون اکثره غړي ددي فرمان ملا تړ نکوي.

بله ستونزه چي دکوچیانو دسهم په باب وه هغه یوڅه اندازه حل شوي امکان لري چي په بشپړه توګه پدي باره کي توافق وشي.

سید احمد ګیلاني پدي باب چي تاسو داوله دافکر نه کاوه ،چي په(٤۰) ورځو کي به داشورا جوړه شي او مشکل به پکي راپیدا شي ووېل په هغي وخت کي خو یو مشکل داوو چي په پوره ډول زموږ پریکړه نه وه شوي چي درباني وخت پوره کیږي بیا به څه کیږي په هغي وخت کي دقیادي شورا غړي اختلاف نظر وو ځینو ویل چي رباني دي بالکل لیري شي او په ځاي یي دبل څوك راشي او ځینو دا ویل چي درباني وخت دي تمدید شي ددي اختلافاتو په اساس هم د شورا دجوړیدو امکانات نه معلومیدل نو ما هم چي په هغي وخت کي دارایه ورکړه چي داورځي کمي دي ما همداسي ویل چي داسي یو کار ونشي چي شورا ته نواقص متوجه شي او شورا جوړه نشي نو په همدي اساس په هماغه وخت کي دا پریکړه هم وشوه چي که شورا جوړه نه شوه نو رباني صاحب دي قدرت بل چاته حواله کړي ځکه چي دده د حکومت په دوره کي ډیري ستونزي را ولاړي شوي دي.

نوموړي په دي باب چي که چیري شورا جوړه نشي نو بیا به څه کیږي ووېل ښه به داوي چي پدي باب قیادي شورا فیصله و کړي او پوره تصمیم و نیسي چي آیا د رباني دوره تمدید کړي او یابل څوك راولي خو زه په خپله دانه ګڼم چي یو بل څوك راشي تر څو چي زموږ ستونزي حل شي نور څه مشکلات چي موږ په مخ کي لرو او ماته معلوم دي زه نه غواړم چي دلته یي یاد آوري وکړم.

تناوب در استعمار ...

بار الها، به حرمت خون هاي ریخته آن دوراد مرد شهید وسایر شهداي راه اسلام که مارا از ذلت نفاق دور نګهدار و بر صراط المستقیم هدایت که مراضي ذات اقدس خودت در آن مضمر باشد، رهنمون شو!

آګاه باید بود که دشمن باهیکل منحوس و خطر ناکش درکمین نشسته است و ترصد مینماید تادر کجا بتواند همچو افراد دیګري را از میانه، ملت و مملکت ما بردارد و راه یکسره براي مقاصدش همواز و موانع کاملا منتفي ګردد.

شیوه، دیګري که همین اکنون دشمنان اسلامي درپیش ګرفته اند ، مطرح ساختن و شهرت دادن چهره هاي کثیفي است که در سراسر دوران جهاد، حلقهٔ غلامي و دشمني را درګوش خود آویخته و در خدمت و آستان بوسي اش، مضایقه نکرده است.

اګر استعمار مؤفق ګردید که اینچنین چهره ها را بزعم خودش بر ملت مابه صفت قاید و قوماندان بقبولاند ، مسلم است که بقایاي جنایت پیشه رژیم کمونستي را که اکنون همګي آنها مزدوري استعمار سیاه را پذیرفته اند، جان تازه بخشیده و در صورت جابه جانمودن آنان، مجدداً زمینه را براي فتنه و فساد مهیا خواهد ساخت.

یك فروند بم افګن امریکایي ناپدید شد

واشنګتن - ۱۰ قوس:

یك بم افګن (ب۱) آمریکا که صبح امروز در منطقه کوهستاني غرب تګزاس درحال پرواز بود ناپدید شده است و احتمال میرود که سقوط کرده باشد.

بنابرین ګزارش ساکنان این منطقه اندکي قبل از ناپدید شدن طیاره دود غلیظ را در هوا مشاهده کردند، اما از محل دقیق سقوط احتمالي این طیاره و سرنوشت پیلوت آن ګزارشي را یافت نشده است

دسرمقالي پاتي برخه

دزرو ، زور او تذویر له اغیزي پرته خپل استاځي د خپلو هیلود ترجمان په توګه شوراته ولیږي نو اوس چي ائتلاف او دهغوي بهرنیو بادارانو ته د خپلي بي وسي او پاتي راتلو پته لګیدلي ، نو پدي به هم داډ من شوي وي ، چي دحزب اسلامي دګډون او مرستي پرته هیڅ حکومت هم نه په افغانستان کي ټینګیدلي ، او نه کوم نوښت رامنځ ته کولي شي، نوښت او ابتکار خو لاڅه چي حتي د سرو کمونستي رژیمونو نه به هم په بد تر ډول دمجاهد ملت په کلابندي کي ژوند تیروي، او داڅرګنده ده ، چي یو محاصره شوي نظام نه ډځان په خیر راتلي شي او نه دخلکو،باید د ملت په وړاندي پاتي راغلي کسان خپله ناکامي تسلیم او نور د اسلامي حکومت ترمخ چي زموږ دمجاهد ولس دحماسه زیږوونکو قربانیو نعم البدل دي اودشهیدانو هیوادیي له حزب اسلامي غونډي دیوه ستر او عظیم تحریك نه هیله لري، خنډ نه شي، او که نه نو د شهیدانو دوینو سیلاب به یي پخپلو توپاني څپو کي دتل لپاره د عدم غیږي ته وسپاري ، او په شرمناك ډول به د هستي له پلټي نه ورك شي ، څوك چي دداسي یوه هیواد نه چي پخپلي قرباني یي سره امپراتوري ډړي وړي کړه، دغولولو او تحمیق هیله لري، پخپله تیروتي او دتاریخ ستر دګماتیست دي.

بوسنیا: د اسلامي نړي غمیزه:

داروپا په زړه کي پرته اسلامي بوسنیا له یوکال نه زیات وخت د سربي ځواکونو له خواچي یهودیت او صلیبیت یي سر پرستي کوي، د اوسپني نیني چیچي، د جنګ په دوران کي دیوي احصائیي له مخي له یو لکو نه زیات شهیدان شوي، یو لك اولس زره بوسنیا وال ورك او یو ملیون یي کور پرینښودلو ته اړ شوي، له مهاجرینو سره یي دګاونډیو هیوادونو له خواچي کوم شرمناك سلوك شوي ، هغه د بشریت په لمنه تور داغ دي، دبوسنیا ګاونډي هیوادونه دبوسنیا مظلوم مسلمانان نه پریږدي چي وروتښتي، او پدي توګه نړیوال کفر په یوه سلا داپتیلي ، چي باید له اروپانه د اسلام نو م او نښان ورك شي دبوسنیا په ویر جن حالت اروپایي هیوادونه په قصدي ډول سترګي پټوي، او دملګرو ملتونو له خوا یي پوځي مداخلت نظر انداز کوي که څه هم د بشري حقوقو نړیوالي ټولني په څرګنده توررولګاو ، چي سربي ځواکونو دبوسنیا په نسل کشي او دخاوري په صفایي پسي په منظم ډول متي رابډ وهلي ، او دبوسنیاخاوره له مسلمانانو پاکوي خو چا پري غوږ هم ونه ګراو د حیراني وړ داده چي بوسنیا مسلمانان تش لاسي او سربیان مسلح دي، او په بوسنیا د ملګرو ملتونو له خوا دوسلو بندیز هم لګیدلي دي نو اوس چي په جده کي داسلامي کانفرانس په ابتکار د اسلامي هیوادونو د بهرنیو چارو دوزیرانو غونډه جوړه شوي، په حقیقت داد نړي داسلامي هیوادونو د ولسونو هغه رعب او دباو دي ، چي دبوسنیا له مسلمانانو سره یي د خواخوږي پر بنسټ په خپلو حکومتونو اچولي او هغوي یې ددلسي یوي غونډي جوړولو ته اړ کړیدي.

داکومه دتعجب خبره نده ، چي اسلامي نړي دبوسنیا دغمیزي په اړه څه دپاسه دیوکال مرګاني خوب نه وروسته سترګي پرانیزي ، او خپل ژوبل شوي بدن ته یي پام کیږي، په اصل کي د مسلمانو هیوادونو حکومتونه په مستقیم ډول د امریکا په ولکه کي دي، او له ملت نه زیاته اتکا یي دلویدیزو هیوادونو په مرستو او مشورو ده ، اسلامي امت ته پکار دي ، چي دخپلو حوادثو په نظر کي نیولو سره دي ته پام راواړوي، چي پدو ي څوك مسلط دي، او څه غواړي ؟ نن د الجزایر او مصر حکومتونه په خومره بي شرمانه ډول د امریکا په مشوره د خپلو هیوادونو دخلکو پر ضد د بنیاد ګرایي په نامه اتحاد کوي او دیته نه ګوري، چي تاسو له چا سره جنګیږي، دیوه تش لاسي ولس لپاره دخپلو حکومتونو اتحاد که دصلیبیت او یهودیت ارمغان نه وي، نو څه به وي ، څوله دي سره سره بیا هم د اسلامي نړي د ګډي اقتصادي همکاري دانوي لري چي د(ایکو) دسازمان له خوابي تیزه اینبودل شوي، په حقیقت کي دلویدیزو هیوادونو پر صنعت ګوزار دي، او لویدیځ به تر خپلي وسي پوري د اسلامي هیوادونو دسیاسیت قیزه په لاس کي وساتي ، ترڅو دنوو راټوکیدلو اسلامي تحریکونو په تهدید اسلامي نړي تیر باسي ، ځکه که سرتاسري نړي ته وکتل شي،نو روان اقتصادي، سیاسي او پوځي جنګونه د اسلام او کفر تر منځ دي ، کمونیزم له منځه وتي، او د اسلام د مقدس دین سیاوون ورو، ورو دجهان په تیاره ګوټونو خپله رڼایي ورخوروي.

تونل زیر زمیني فرانسه و انګلستان افتتاح شد

لندن -۹ قوس:

اولین مرز زمیني بین فرانسه و انګلستان امروز طي مراسم خاص در حضور تعدادي از مقامات دو کشور ګشایش یافت .

خطوط مرزي بین انګلستان و فرانسه که دران تونل زیر دریاي مانچ درپنجاه متري زیر ریګهاي بستر دریا احداث شده است دقیقا در ۲۸ کیلومتري سواحل انګلستان و ۱۹ کیلومتري سواحل فرانسه تعین شده از امزور براي نخستین بار در تاریخ بشر عملا میتوان با پاي پیاده از فرانسه به انګلستان سفر کرد

بقیه نامه

محصل ستاسي دسلامتویه بدرګه کي خپل دمیني ولك سلامونه موږ هم غبرګوو.

ستاسو اوږد دوه مخیز لیك مو ولوست رښتیا هم چي دائتلافي اداري دمشر په حال افسوس کول پکار دي خپل پاك نوم یي دائتلاف په مشرتوب کي بدل کړ.

مګرګرانه ! داثابته ده چي کفارو په هرځاي اوهروخت کي داسلامي نظام دمخنیولو لپاره په کمین دي اوتل یي خپلي هڅي دمسلمانانو دټکولو لپاره په کار اچولي دي . لکه چي ټولو مسلمانانو ولیدل چي دافغان مجاهدینو دحکومت دجوړولو لپاره یي له څرنګه دسیسو او اوتوطیو څخه کار واخست چي څه ضعیف النفس مجاهدین یي په پیسو اویوتعدادیي په مؤقت قدرت تیرایستل خوان شا ءالله چي ددي مذهبیومجاهدینو ارمان به هم له خاورو سره خاوري شي ان شا ءالله والسلام .

اداره

جنوبي كورياد خپلي وركي شوي الوتكي معلومات له روسانو څخه غواړي

سيول دلينډي (۹)

دجنوبي كوريا رسمي مقامات وايي چي كه دهغوي حكومت ته دامعلومه شي چي دروسيي جمهور رئيس يلتسن قصداً دكوريا دغورځول شوي الوتكي متعلق نيمګړي معلومات وركړي وونو سيئول به روسيي ته مرسته ورنكړي دكوريا دخارجه وزارت يوه مامور وويل چي كه ثابته شي چي دجنوبي كوريا دغورځول شوي طياري علتونه پدي وجه رامنځ ته شوي وي چي يلتسين جنوبي كورياته ور تلو نو كوريابه مسكو ته دپور وركول بند كړي.

جنوبي كوريا كوښښ كوي چي دروسي مامورينو سره وګوري او هرڅومره ژر چي ممكنه وي دهغي وركي شوي الوتكي معلومات به ترلاسه كړي.

مبارزين كشميري يك افسر عاليرتبهٔ هندي را به قتل رسانيد

دهلي جديد: (۱۰) قوس

مبارزان كشميري ديشب طي عملاتي يك افسر عاليرتبه اترابرديش ايالت جنوبي هند را به هلاكت رسانيد.

اين افسر رهبري يك تيم عملياتي پوليس در حمله به يك محفي گاه چريكهاي جبههٔ آزادي بخش جامو وكشمير را به عهده داشته است، مبارزان كشميري پس ازين عمليات مؤفق به فرار شدند.

دمصر امنيتي ځواكونو دمسلمانو مبارزينو په نيولو لاس پوري كړ

قاهره: دلينډي: (۹) مه

دمصر امنيتي ځواكونو دنوموړي هيواد په ستراتيژيكو سيمو كي د عسكرو ځاي پر ځاي كول پيل كړي او كوښښ كوي چي دانقلابي مسلمانانو خوځښتونه تركنترول لاندي راولي.

دمصر دكورنيو چارو وزير وويل چي دمخفي پوليسو يو نتونه به دپوځ دجزتامونو ځاي ونيسي.

همداراز د مصر پوليسو او پوځي ځواكونو د مسلمانو مبارزينو په نيولو پسي شروع كړي او هري خواته په ورو موترو كي ورپسي ګرځي.

سازمان(سيا) ايران را متهم به ساختن سلاحهاي اتمي نموده است

تهران:(۱۰) قوس

آژانس بين المللي انرژي اتمي از ايالات متحده امريكا خواسته است تا اطلاعات مشخصي كه بر اساس آنها ، آژانس بتواند در مورد گزارش هاي امريكا مبني بر اينكه ايران در خفا مشغول ساختن سلاحهاي اتمي است، دنبال كند، در اختيار آن سازمان بگذارد.

بر اساس يك مدرك سازمان (سيا) كه قسمت هايي از آن در مطبوعات نشر شده است ، مقامات عاليرتبهٔ دولتي در امريكا گفته اند كه ايران تا سال (۲۰۰۰) ميلادي قادر به ساختن بم اتمي خواهد بود.

آژانس بين المللي اتمي كه از دوراكتور تحقيقاتي ايران باز رسي كرده است ميگويد مداركي در مورد چنين پروگرام هايي در دست ندارد.

دبوش حكومت د ايران د اتومي پروګرام په برخه كي خبري كوي

واشنګټن: دلينډي (۹) مه

دنيويارك تايمز ورځپاڼي خبر دي چي دبوش حكومت د ايران د اتومي پروګرام په باره كي بحث اوخبري كوي، دغه ورځپاڼه وايي چي دامريكادمركزي استخباراتو څانګي سي، آي ،اي ديوه رپوټ په مسوده كي راغلي چي ايران به وكولاي شي چي تردوه زرم كال پوري په اوو اتو كلونو كي يواتومي بم جوړ كاندي، ليكن نيويارك تايمز ليكي چي په حكومت كي داتومي چارو يوماهر دانه مني چي ايران دي يو داسي اتومي پروګرام و لري لكه عراق چي دخليج د جنګ څخه دمخه درلود.

مسلمانان انگوش سياست روسيه در قبال آن كشور را محكوم كردند

مسكو(۱۰) قوس:

همزمان با برگزاري هفتمين كنگرهٔ نمايندگان مردم روسيه در قصر كرملين گروهي ازمردم جمهوري خودمختار و مسلمان نشين انگوش بابرپايي تظاهراتي در برابر قصر كرملين سياست روسيه درقبال اين جمهوري رامحكوم كردند.

تظاهركنندگان كه عكس هاي قربانيان خود را در درگيري هاي اخير ميان روستباي شمالي و انگوش حمل مي كردند، بامحكوم كردن شركتروسيه دركشتار مردم انگوش خواستار برقراري صلح درمنطقه انگوش شدند.

شهادت

مهاجرين افغاني در ايران به اردوگاه‌ها انتقال خواهند يافت

يك كار شناس ايراني تصميم حكومت ايران را غير واقعبينانه خواند

تهران- ۱۰ قوس

مسايل مربوط به بازگشت مهاجرين افغاني از ولايت خراسان ايران ديشب درجلسه اي باحضور معاون كميساري عالي پناهندگان سازمان ملل در خاور ميانه ووالي خراسان مورد بحث و تبادل نظر قرار گرفت.

به گزارش راديوي ايران درين جلسه والي خراسان موقعيت فعلي افغانستان را فرصت خوبي براي بازگشت مهاجرو آغاز دوره بازسازي اينكشور دانست و خواستار اقدام هاي جدي سازمان ملل درين زمينه شد، وي گفت در قالب يك طرح زمان بندي شده ، زمينه برگشت مهاجرين به افغانستان بدون هيچ محدوديتي فراهم شده است و از اين پس اين مهاجرين به اردوگاهاي ايجاد شده انتقال خواهند يافت ، همچنان گفت ، ولايت خراسان آماده است در صورت تامين اعتبارات از سوي سازمان ملل براي باز سازي ولايات فراه و هرات در افغانستان اقدام كند.

سازمان ملل به مهاجريني كه ازايران بازميگردند، ارتزاقي ميدهد

تهران - ۸ قوس :

به اساس گزارش آژانس خبري ايران سازمان ملل متحد شروع به توزيع اموال امدادي به پناهندگان افغاني ميكندكه ازايران به وطن شان بازميگردند. به قول آژانس هريك ازمهاجرين ۲۵ دالروپنجاه كيلومواد غذائي را تسليم خواهند شد.

۲۵ دالر و ۵۰ كيلومواد

احمدحسين مدير عمومي درامورمهاجرين اطلاع دادكه درپايان سال روان ۵۲۰ هزارنفريه افغانستان برمي گردند وبيشتراز ۳۰۰ هزارنفرازپناهندگان ايران راترك نموده اند .

روشنفكران بوسنيايي خواستارتوقف جنايات سربها برمسلمانان بوسنيا هرزكوينا شدند

جده- ۱۰ قوس

"روشنفكران مسلمان بوسنيايي خواستار توقف جنايات صربها در بوسنيا هرزگوينا شدند.

روشنفكران مسلمان ساكن در سرايبو امروز با ارسال پيامي به سازمان كنفرانس اسلامي كه در جده، آستانه گشايش است ضمن اعلان اين مطلب تصريح كردند كه باوجود تجاوز نظاميان صرب به كشور بوسنيا هرزگوينا مجامع بين المللي با ايجاد موانعي ملت مسلمان بوسنيا هرزگوينا را از حق دفاع از كشور خود محروم كرده اند، درين پيام هم چنان آمده است، علي الرغم ادعاي كشور هاي اروپايي مبني بر دفاع از حقوق بشر، اين كشور ها درمقابل اين جنايات لب فروبسته اند.

ملك فهد خواستار مسلح شدن مسلمانان بوسنايي گرديد

جده- ۱۰ قوس

ملك فهد پادشاه عربستان سعودي از سازمان ملل متحد خواسته است تا به مسلمانان بوسنيا هرزگوينا اجازه دهد خود را در مقابل حملات صربها مسلح كنند.

پادشاه عربستان سعودي در مراسم افتتاح كنفرانس كشور هاي اسلامي با اشتراك نزديك به پنجاه كشور اسلامي در جده سخن مي گفت. اين كنفرانس براي پيداكردن راه هايي براي كمك به مسلمانان بوسنيا هرزگوينا تشكيل گرديده است.

علي عزت بيگويچ رئيس جمهوري بوسنيا هرزگوينا درين كنفرانس گفت تحريم فروش اسلحه به جمهوري يوگوسلاوياي سابق ، به صربستان اين فرصت را داده تامردم بوسنيا هرزگوينا را قتل عام كند او گفت زجري كه مسلمانان بوسنيا هرزگوينا از دست صربها مي كشند

دشهيد ضابط زرخان «كوچي» دشهادت لومړي تلين دي ټولو مسلمانانو ته مبارك وي

شهيدضابط زرخان كوچي چي دسرولښكروپه مقابل كي زموږدمومن ولس په څوارلس كلن جهادكي يي وسله په څمكه كينښوده اوډژوند تروروستي سلګي پوري يي له هيوادنه دكفراوالحاد دتغرټولوپخاطرمبارزه اومجاهده وكړه ، اوديوه سرښتدوي بولندوي قوماندانپه توګه يي خپله ايماني دنده سرته ورسوله دحاجي عبدالرشيدخان زوي . اودلغمان ولايت دقرغيوولسوالي اوسيدونكي و.

شهيد ضابط زرخان كوچي په ۱۳۳۸ لمريزكال دلغمان درقرغيو دعبدالرحيم زيوغوندي په كلي كي زيږدلي اولومړني زده كړه يي دعبدالرحيم زيوپه لومړني ښوونځي كي ثانوي زده كړه يي په ۱۳۵٦ كال دقرغيوپه ليسه كي سرته ورسوله اودلوړو زده كړو لپاره دپوليسو په اكادمي كي شامل شو. په ۱۳۵۷ كال كي يي دكمونستي حكومت دمنځته راتګ سره سم دروسي يرغل په مقابل كي وسله وال جهادپيل كړ. څه موده يي په ننګرهاركي دشهيدزاهدابراهيمي ديوه تكړه قوماندان په توګه جهادوكړوروسته بيادلغمان ولايت دامير جيهي ته ولاړاوډژوندترپايه يي هلته جهادوكړ. دده جهادي كارنامي به زموږداسلامي انقلاب دتاريخ زرين باب وي.

شهيد ضابط كوچي د ۱۳۷۰ لمريزكال دقوس پرينځلسمه دجمعي په مباركه ورځ دورځي په يوولسو بجواوپنځلسودقيقو ديوي خاينانه توطي په ترغ كي شهيدكړاي شو .

يادئي تل اولاريي له لارويودكه اوسه

اطلاعيه

به اطلاع تمام محصلان بخش داخل خدمت پوهنځي تعليم وتربيهٔ پوهنتون اسلامي افغانستان رسانيده ميشود كه بانظر داشت اعلان قبلي، مبني بر آغاز دروس اين بخش ، هرچه زودتر به مديريت تدريسي پوهنځي واقع نصرت مينه حاضر شوند .

(۴-۹)

اعلان

به اطلاع همه علاقه مندان لسان انگليسي رسانيده مي شودكه كورس (OUT REACH IRC) بااستادان ورزيده وسيستم آموزشي جديد (سمعي وبصري) آمادهٔ خدمت بوده وبراي صنوف بگيتر اول ، دوم ،سوم ،چارم انتنسيف شاگردمي پذيرد وبه زودترين فرصت شمارابالسان انگليسي آشنا مي سازد.

ثبت نام : از :- ۲۱ نومبر تا - ۵ دسمبرهمه روزه ازساعت ۲ تا ۷ شام

آدرس : ، صدر، تهانهٔ غربي ،گلبرگ نمبر(۱) متصل مسجد غوثيه واقع گلبرگ پبلك سكول

موج تظاهرات شهر چاريكار را ...

يكجاي مورد سرقت واقع شد و پول و اموال موجود درين دوكانها بتاراج رفت كه همين حادثه موجب بر افروختگي بيشتر مردم شد.

لازم به ياد آوري است كه بر سر ادارهٔ شهر چاريكار بين عظيمي والي چاريكار و قوماندان آغا شرين مسؤل نظامي شهر نيز اختلاف عميق بوجود آمده است، قوماندان آغا شرين بطرفداري مردم والي را زير فشار قرار داده است" از حمايه افراد فاسد دست بردارد و اين افراد را به محكمه بكشاند ، هنوز معلوم نيست كه خواست قوماندان آغاشرين و اهالي چاريكار بكجا ميكشد؟

اهالي چاريكار درجريان مظاهرات شان شعار هاي مرگ بر حكومت ائتلافي زنده باد حكمتيار راتكرار ميكردند، اين مظاهره بعد از راهپيمايي درجاده هاي مهم شهر به پايان رسيد.

تقاضا از استادان و معلمين

بخاطر دسترسي به تجارب آموزشي و تعليمي و ارائهٔ يك سلسله مشورتهاي فني و سودمند، از استادان و معلمين گرانقدر تقاضا داريم تافشردهٔ نظريات شانرا در رابطه با مطلب ذيل براي ما ارسال دارند:

چه تجاربي از دورهٔ كار خود داريد و درمورد تدوين يك لايحهٔ جامع اسلامي براي تعليم و تربيه چه پيشنهاداتي ميكنيد؟

تذكار: براي اينكه مطالب رسيده زمينه نشر پيدا كند اميد واريم مضامين از حد اعظم (٦۰۰) كلمه زياد تر نباشد.

مطالب را دريك روي كاغذ بنويسيد و يك قطعه فوتوي خو را نيز ضميمه آن نمائيد.

آدرس پوستي روزنامه شهادت: P.O Box: No -1465 يونيورستي تاون.

آدرس دفتر: چمكني مور جي تي رود، پشاور

٦

فرمان الهي

آنانيكه مي رنجانند مردان وزنان مسلمان را بغيرگناهي كه كرده باشند ، هرآئينه برداشتند باربهتان وگناه آشكاري را

(سورة الاحزاب - ۵۸)

ارشاد نبوي

ازحضرت ابوامامه (رض) روايت است كه پيامبرخدا (ص) فرموده اند: كسيكه جهاد نكند يارزمنده اي رامجهز ننمايد ويا سرپرستي فاميل غازيي رابه نحوي درست نكند ، خداوند قبل ازروزقيامت اورابه عذابي مبتلا ميكند

(رواه ابوداؤد)

يكهزار مهاجر افغاني از ايران وارد كشور شد

تهران - ۱۰ قوس :

عمليات برگرداندن افغانهاي مقيم ايران به افغانستان ازامروززيرنظرسازمان ملل آغازگرديد.

طبق گزارش راديوي بي بي سي دراولين مرحلهٔ ازين عمليات يكهزار افغان ازتايبات خراسان رهسپار افغانستان شدند درحاليكه كميسارياي عالي سازمان ملل درامورپناهندگان ۲۵ دالر پول نقدوپنجاه كيلوگرام گندم دراختيارهريك آنهاگذاشته بود

خبرگزاري ايران به نقل ازعلي اكبري مديركل ادارهٔ اتباع خارجي درخراسان ميگويدكليه تدابيرلازم براي برگرداندن آواره گان افغان بكشورشان درنظرگرفته شده است . ازجمله هريك ازآنهاميتوانند دارايي هاي نقدي تاحدود يكصدهزارتومان واموال منقول جديدخودراهمراه خودببرند . همچنان براي پناهندگان افغاني كه باايراني هاازدواج كرده اند شرايطي فراهم شده تابتوانند همسران خودرابه افغانستان ببرند . هم چنان زنان افغاني كه باايراني هاازدواج كرده اند ميتوانند درايران بمانند بنابه آمارهاي موجودازدوران بقدرت رسيدن مجاهدين دركابل تاكنون سه صدهزارپناهنده افغان ازايران به كشورخودبازگشته اند.

تعدادي ازاعضاي كنگرهٔ روسيه خواستار استعفاي رئيس جمهورو بركناري كفيل صدارت آن كشور شدند

مسكو ۱۰-قوس

بوريس يلتسن رئيس جمهوري روسيه از جناحهاي محافظه كار و اصلاح طلب خواست با يكديگر صلح كنند تا دولت او بتواند، به انجام تحولات سياسي و اقتصادي ادامه دهد.

او در آغاز كنگرهٔ نمايندگان مردم كه درمسكو تشكيل شده است سخن مي گفت، قرار است اين كنگره برنامه هاي اقتصادي اوراكه سبب بالا رفتن قيمت ها و پائين آمدن توليدات صنعتي شده است بررسي كند. او از كنگره انتقاد كرد كه مباحثات خود را روي مسايل پيش پا افتاده تلف مي كند و گفت كه قبول نخواهد كرد ارتش تحت كنترول پارلمان قرار گيرد. كمونست هاي تند رو قابليت يلتسن براي باقيماندن در مقام رياست جمهوري را مورد سوال قرا ر داده اند و ميگويند بعضي فرامين او با قانون اساسي تناقض دارد از جمله فرماني كه يكسال پيش باعث ازبين رفتن اتحاد جماهير شوروي شد.

درجلسهٔ امروز چندتن از نمايندگان خواستار استعفاي يلتسن رئيس جمهور و بركناري ريگورگايدركفيل صدارت روسيه شدند.

دشوراى نظار

ددرلدو تلفاتو او مالي تاوانونو سبب و گرزيده .

دپيام آزادي راديو زياتوي چي دنوموړي جګړي علت معلوم نه دي خوپه دغه جګړه كي ددښمنو دلو څخه (۹) تنه وژل شوي دي.

دكابل د ائتلافي

فعاله ونده درلوده پدي وروستيو كي دخپلو ذات البيني اختلافاتو له امله د خپل كار په دفتر كي دخپلي مخالفي دلي له لوري ووژل شو.

خبرخاي وايي چي نوموړي كمونست په داسي حال كي ووژل شو چي دشرابو په څښلو بوخت و

شهادت

بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنيرحكمتيار

ناشر: رياست ارشادوفرهنگ

تحت نظرهيئت تحرير

آدرس : جي تي رود چمكني مور

پوست بكس : (۱٤٦۵)

يونيورستي تاون پشاور

تلفون : ٦۳۷۸۹